# د همېش خليل نظم ګوئي

# (Poem Writing of Hamesh Khalil)

Dr Bushra Ikram [1]

drbushra@uop.edu.pk

Issn 2304-1463

## Abstract:

Hamesh Khalil is a versatile author of Pashto language. He is a poet, a short story writer, a critic and a researcher simultaneously. This paper is about his poem writing. He has published four collections of poetry i-e Naghma zaar, Zama sandary, Khapoona aw Khaloona, Sooghat and besides this a short collections of national songs in 1965. Nationalism, Realism, Patriotism, Progressivism, Peace and Sympathy for the whole humanity are the main themes of his poems. Due to archaic words of Pashto and innovative similes and metaphors his style is distinguished from other and very near to classics. This paper is an attempt to present a critical review of this poems to the readers of Pashto language and literature.

## Keywords:

Poems, Patriotism, Realism, Progressivism, Peace

په پښتو ژبه بې کچه مئين همېش خليل صيب عام ښېرنکاران د يو ښه نقاد او ښېرنکار په حېث پېژني خو هغۀ يو داسې شخصيت ؤ چې هغۀ د خپلې ژبې او ادب د هرې غاړې او هرې زاوئې نه خدمت کړے دے ـــ کۀ د هغۀ تدوين ؤ کۀ د تنقيد ، تخليق ؤ کۀ تحقيق، سياست ؤ کۀ صحافت هغۀ په هر مېدان کښې خپل قلم چلولے دے۔

همېش خليل د پېښور د بر تهکال کلي سره تعلق لري۔

[1] Assistant Professor Pashto Academy University Of Peshawar

" د کال 1930ء د اپرېل د میاشـــتې په یؤلســـمه ورځ د پېښـــور په مشهور کلي بر تاکال کښې د انځر ګل کره پېدا شو ـ " [1]

اولنۍ زدکړې یې په تهکال کلي کښـــې اوکړې او بیا په اســـلامیه کالجېټ ســـکول کښـــې داخل شو ـــ د هغهٔ ادبي شعور ډېر د وخته نه ویخ شوے ؤ ـــ بیا د پېښور غونده زرخېزه خاؤره کښې یې ښهٔ وده موندې وه ـ او خپلې ژبې ته یې ډېرې په زړهٔ پورې بخښنې کړې دي ـ د یو ښهٔ نقاد او څېړنکار نه پرته هغهٔ یو ډېر ښـــهٔ شـــاعر هم ؤ ـــ ډېرو کمو خلقو ته به دا پته وي چې د هغوي د شاعرۍ څلور مجموعې چاپ وي ـ نغمه زار چې په 1948ء کښې چاپ ده ـ زما سندرې چې په کال 1973ء کښې چاپ ده ـــ قومې ترانې په 1965ء کښې چاپ دي او سوغات اوس اوس چاپ شوې ده ـ ولې دا ټولې مجموعې د کلیاتو په شکل کښې ایازالله ترکزي په 2021ء کښې چاپ کړې دي ـ

د هغوي شـاعرۍ ته چې بنده ځیر شي نو غزل یې د نظم نه ښـکلے دے او نظم د غزل نه ولې دلته زهٔ د هغوي په نظم ګویئ خبره کوم ـ

د هغوي په اولنۍ مجموعه کښـــې دیارلس نظمونه دي، زما ســـندرې کښـــې یو دېرش، خاپونه او خالونه کښې څلېریشت، سوغات کښې شپاړس او پینځه قومي ترانې دي او څهٔ ناچاپ نظمونه هم شـته ـــ داسې دا ټوله شـمېره نوي ته رسي ـــ دهیئت په لحاظ کهٔ د هغوي نظمونو ته اوګورو نو دا ټول پابند نظمونه دي خو کهٔ چرې موضـــوعاتو ته یې ځیر شـــو نو د موضـــوعاتو په لحاظ په دې کښې ډېر تنوع موندے شي ـــ څنګه چې د همېش خلیل صېب ژوند مختلف اړخونه لري داسې د هغوي نظم هم ډېر ګڼ موضوعات لري ـ د حب الوطنۍ جذبه، مقصدیت، رومانیت، آفاقیت، امن، وروروليی، ترقي پسندي، د قېد و بند ژوند غوندې هره سنجیده موضوع د هغوي په نظم کښې موندے شي ـ

## د حب الوطنۍ جذبه:

د همېش خلیل صېب ډېر نظمونه لکه د " پاکستان ترانه، د غازي سندره، پاکستاني فوځ ته ســـلام، اے زما خوږه وطنه، د وطن مینه، د ازادۍ نه وړاندې د ازادۍ نه پس، اے وطنه اے وطنه، پېغام، شهیدانو د وطن، زما وطن زما قوم، فرض او مینه، د افغان غازي کردار، د خاؤرې

ورېمې او وینه غوندې نظمونه د حب الوطنۍ یا وطن سره د مینې یو روڼ او کوټلی ثبوت دے لکه بلبل چې د ګل په صفت په چغار چغار لګیا وي ـــ دغهٔ شان همېش خلیل د خپل وطن او خپلې پاکې خاوړې په مینه نهٔ مړېږي :

زمـا سـر لـه تـا نـه زار شـه
اے زمـا خـوږه وطـنـه
سـتـا بـدخـواه خـوار و زار شـه
اے زمـا خـوږه وطـنـه

زهٔ د خـپـل زړګـي د صـدقـه
دا دے تـا سـره اقـرار کـړم
پـټ پـنـاه یـې نـهٔ کـوومـه
درسـره یـې زهٔ پـه جـار کـړم
هـلـه پـسـتـه بـه ارام کـړم
چـې غـلـیـم درتـه پـه دار کـړم

زمـا سـر لـتـا نـه زار شـه
اے زمـا خـوږه وطـنـه
سـتـا بـد خـواه خـوار و زار شـه
اے زمـا خـوږه وطـنـه[2]

ښاغلی حنیف خلیل صیب د هغوي د دې قام پرستۍ او قامولۍ د جذبې په حقله وائي:

" د موضــوع په لحاظ کۀ د هغۀ شـــاعري هر څو په څو خورو ورو موضوعاتو مشتمله ده ـ ولې د هغۀ سره د وطن پرستۍ او قامولۍ یوه مخصــوصــه جذبه ده چې د ځینو شـــاهکار نظمونو لکه د یو سپلاني شاعر په نوم پیغام، شهیدانو د وطن او اے وطنه اے وطنه د تخلیق سبب شوے دے۔ "[3]

" د وطن مینه" نومې نظم کښې څۀ داسې شان ګویا دے:

موتې د خـاؤره د وطن بـه پرې ور نـۀ کړم
کـۀ پـه سـر د مزکې هر وطن ختن شـــي

خـپـلـه خـاوره بـه پـه خـپـلـو ویـنـو پـالـم
کـۀ حـاجـت یې قربـاني زمـا د تن شـــي[4]

د دې نظم په حقله حنیف خلیل صیب وائي:

" د وطن مینه غزل نما نظم خو یې اوس هم د هر قام پرســـت او وطن دوست په زړۀ او ذهن کښې ازانګې خوروي ـ دا نظم د افغانستان په درســي کتابونو کښـــې شـــامل دے او هر وطن پرســت افغان ته یاد دے۔"[5]

رومانیت:

د همېش خلیل اولنۍ شعري مجموعه نغمه زار د هغۀ د ېر د تنکي عمر شاعري ده ـ په دې وجه د دغۀ دور شاعرۍ کښې رومانیت یوه ډېره فطري خبره ده ــــ بل هغۀ چې دغۀ وخت د پښتو

شاعرۍ د کوم دور سره تعلق لرلو هغې کښې هم د رومانیت رنګونه خواره وو ـــ ښاغلے حنیف خلیل صېب د هغۀ د شاعرۍ د دې رنګ په حقله لیکي:

" همېش خلیل نه وړاندې چې د پښتو کوم روایت موجود ؤ هغې کښې دوه رنګونه زیات شوخ وو یو د مقصدیت او دوېم د رومانیت ـــ همېش خلیل د رومانیت په لار د خپل شعري سفر وړومبې قدم اخیستل غوره وګڼل او د وړومبنۍ مجموعې اکثر نظمونه یې په دغۀ رنګ کښې رنګ دي۔ " 6

" ستا راتلل " نومې نظم یې د رومانیت یوه ښکلې نمونه ده :

کله مخکښې کله وروستو لکه خیال چې په اټکو شي
د غضب د حسن ناز ته د یوسف په رپهر دے

ربه څومره سادګي ده یو قدم د بل د پاسه
لکه ځانګې د ګل کوزې زړۀ بلبل غوندې اوتر دے

په قرار راځه جانانه ستا د هر قدم د لاندې
د همېش برباد زړګے دے په فریاد او درزهر دے

حال چې څۀ زما د زړۀ شو دا جانانه ستا ادا وه
یو راتلل دې د مکېز ؤ بل دې کوږ او شوخ نظر دے 7

## خدا ے او رسول ﷺ سره مینه:

د هر پښتون شاعرۍ کښې د خدا ے او رسول ﷺ سره د مینې اظهار موند ے شي ـــ او د همېش خلیل په نظمونو کښې مونږ ته د الله ﷻ او رسول ﷺ سره د مینې ښۀ پرېوانه اظهار موند ے شي۔ په نظم "لویه خدایه لویه خدایه" کښې ښاغلے همېش خلیل وائي:

ا ے مالکه یو نظر په خپل غلام کا
پیرزوئنه د کرم دې را انعام کا
سپین سحر زما د ژوند سکنې ماښام کا
چې زۀ هم ستا له رحمته مستفید شم
او آګاه دې له رازونو د توحید شم[8]

دغۀ شان د رسول الله ﷺ په شان کښې ځۀ داسې شان ګویا د ے:

تۀ صاحب د قرآن ـــ تۀ محبوب د سبحان
تۀ یې مے د عرفان او رحمت عالم
صلی الله علیه وآله وسلم

تۀ رهبر د انسان تۀ اول او آخر
تۀ خاتم مسلم نبوت په تا تم
صلی الله علیه وآله وسلم[9]

## تاریخ:

د هغوي د نظمونو لوستو نه دا اندازه لګي چې همېش خلیل نهٔ صرف د خپل تاریخ نه خبر دے بلکې د خپلو اسلافو او د هغوي د سپېځلي شخصیتونو او اعلی کردارونو نه هم خبر دے. هغهٔ د خپل قام او د دې خاؤرې د تاریخ ښهٔ ژوره مشاهده لري ــ هغهٔ قاري د ګوتې نه نیسي او په ارام ارام يې زمونږ د تاریخ په یوه یوه درشل ګرځوي او خپل تاریخ ورته بیانوي. په نظم زما وطن زما قوم کښې وائي:

د دې خاؤرې ملندرې ده کهٔ کړپه ده
کهٔ مېوند دے کهٔ خېبر کهٔ تاتره ده
د افغان د فتوحاتو یادګارونه
کهٔ خاپښ دے کهٔ ګنبت دے کهٔ چوره ده[10]

## قېد و بند:

د همېش خلیل د ژوند زیاته برخه په قېد و بند کښې تېره شوې ده. د حنیف خلیل صېب د وېنا مطابق د باچا خان نه پس همېش خلیل هغهٔ واحد کس دے چې جېلونه یې تېر کړي دي. هغهٔ کله په یو او کله په بل الزام کښې د جېل د تورو تمبو شا ته کېدو، لا به خلاص شوے نهٔ ؤ چې بیا به ګرفتار کړے شو. په دې وجه د هغوي زیاته شاعري رزمیه او حماسي ده. د خپل قېد و بند په حقله وائي:

لاهور، کله پېښېدې، کله جهلم کله ډېرو کښې
د حق دا الزامونه په باداش کښې په زندان شوم

د وخت د رتمبور د قلاګانو تخانو کښې
صله د ارمانونو کښې هر ځاے پا به جولان شوم[11]

## آفاقيت:

همېش خليل يو خوا کۀ د خپل قام او وطن په مينه کښې د سر نه تر پښو پورې ډوب دے هغۀ د دې خاؤرې د تاريخ، د دې خاؤرې د غرونو او سيندونو، چمنونو او ګلونو او خلقو سره مينه کوي نو بل خوا د ټولې نړۍ د انسانيت سره مينه او همدردي لري ــ د همېش خليل د دې آفاقي مينې نمونې مونږ ته د هغوي د دوېم دور په شاعرۍ کښې په نظر راځي. د هغوي د شاعرۍ د دې خاصيت په حقله ښاغلے جاويد اقبال صېب وائي:

"د همېش خليل د دې دور په شاعرۍ کښې سياسي او سماجي مسئلې په عالمي تناظر کښې راوړاندې شوي دي ــ "زما سندرې" کښې شاملو نظمونو کښې دوي د مظلومو انسانانو د درد کرب نقشه بغېر د ژبې، قام، نسل د امتياز نه پېش کوي او په خپله شاعرۍ کښې د افاقيت پېدا کولو هڅې کوي." [12]

د هغوي مينه او د ازادۍ جذبه صرف د خپلې جغرافئې تر حدود محدوده نۀ ده بلکې کۀ په نړۍ کښې هر ځاے په انسانانو ظلم کېږي نو هغۀ يې درد محسوسوي ــ لکه د قطبي ويت نام حريت پسندو په نوم نظم کښې وائي:

ما ته د خپل وطن د پېښو نه فرصت نشته دے
چې د خپل نظم په تاريخ کښې ستاسو ذکر وکړم
اورم چې تاسو په سرو وينو فېصله ليکلې
چې د خپل ژوند سره به نور دغۀ ناکام او نۀ کړئ

چې مو وطن د بل له زوره ازاد کړې نهٔ وي
نو تر هغې به عن تر مرګه خپل آرام او نهٔ کړئ
ما ته د خپل وطن د پښتو نه فرصت نشته دے
چې د خپل نظم په تاریخ کښې ستاسو ذکر وکړم[13]

د دې نظم په حقله ډاکټر جاوېد اقبال وائي:

" په دې نظم کښې همېش خلیل د قطبي ویت نام د حریت پسندو د قربانو او د حریت پسندۍ ذکر هم کوي ورسره د خپل وطن محکومیت او پښتو ته هم اشاره کوي چې د شاعر په شاعرانه هنر دلالت کوي۔ "[14]

**مقصدیت:**

مقصدیت د نظمیه شاعرۍ یوه مهمه موضوع ده۔ مقصدیت د نظم په چوکاټ کښې ډېر په ښهٔ توګه ځائیدے شي ــ په دې وجه همېش خلیل هم په خپلو نظمونو کښې مقصدیت بیان کړے دے۔ په دې حقله ډاکټر حنیف خلیل لیکي:

" د مقصدیت د پاره عموماً د نظم فارم غورهٔ ګڼلے شي ــ مونږ کهٔ د پښتو د نورو شاعرانو په شاعرۍ نظر واچوو نو اکثرو د نظم په فارم کښې د خپلو مقصدي افکارو اظهار کړے دے نو ځکه همېش خلیل هم د مقصدي اوریالستک شاعرۍ د پاره نظم موزون ګڼلے دے۔ "[15]

د همېش خلیل د ډېرو نظمونو نه د مقصدیت ادراک کېږي او ډېر نظمونه يې د مقصدیت ترجمان دي ــ لکه " د ازادۍ نه وړاندې د ازادۍ نه پس" نومې نظم کښې د مقصدیت په اړه داسې ګویا دے۔

ستاسو د ننګ او د ناموس او د همت په توره
ستاسو د زور او د پښتو او د غېرت په توره
ستاسو د پت او صداقت او د ایمان په توره
ستاسو د صبر استقلال او د خپل ځان په توره

د وطن شپه په تېرېدو ده سبا کېږي ګورے
تورې تیارې په رپېدو دي رڼا کېږي ګورے

خو رونړو ناوې د رڼا ته رقیبان پراته دي
په ازادۍ پسې راغلي رقیبان پراته دي
ستاسو لیلا وته د پئیو مجنونان پراته دي
په ارادو د اخستو د ګلستان پراته دي

خوښه مو خپله ما خبر له حقیقته کړلئ
د ازادۍ پسې راخور غوندې غفلته کړلئ

زما همزولو، زما، ورونړو، زما ښه ملګرو[16]

## ترقي پسندي:

همېش خلیل د ترقي پسند ډلې اهم شاعر دے او زیات تر نظمونه یې د ترقي پسند اثر د لاندې لیکلي دي۔ ډاکټر سلمیٰ شاهین د دوي د ترقي پسندۍ په حقله وائي:

"دۀ د خپل وخت د حالاتو ترجماني ډېر په ښکلي انداز کښې کړې ده ۔ په فکر کښې ډېر ترقي پسند دے او په ترقي پسندۍ کښې ډېر

قام پرست دے ـــ د پښتون اتحاد ارزو لري ـــ وطنیت، قامیت،
انصاف او امن د دهٔ د نظم موضوعات دي ـ " 17

په نظم " مینه او فرض " کښې د خپل وطن د محنت کشو د ژوند نقشه څهٔ داسې راکاږي ـ

د وطن خپمې یې پر په سرهٔ غله کړې
خو په خپله یو دانې ته هم ترسېږي
چې سپرلي د خوشحالو بخښي وطن ته
د سپرلي په ارمان سرې سترګې ژړېږي

خپل سرونه یې په سیوري چرې نهٔ شول
سرهٔ لعلونه یې د وینو تخت و تاج شي
چې رڼا پسې رانده شول بل د پاره
کوه نور د سپینو اوښکو یې تاراج شي[18]

د همېش خلیل په نظمونو کښې حمد و نعت هم شته او الاهو هم شته ـــ ډېر نظمونه شخصیاتو ته مخاطب شوي دي لکه د پښترک لومبا په نوم، د رحمان بابا په حضور کښې، قیام الدین خادم ته، ابدالي بابا ، د دوست محمد خان کامل په حضور کښې، د سید بهاؤالدین مجروح په شهادت، ایمل خان، دریا خان، خوشحال خان خټک ، د سقراط او سکندر نه واخله تر نن ورځې تاریخي شخصیات لکه قائداعظم، علامه اقبال، غني خان، سید رسول رسا ، اشرف مفتون عن تر دې چې د الف جانې خټکې او سیدۍ بشرٰی بېګم پورې د ټولو ذکر کړے دے ـ لکه د روایتي شاعرانو یې په شېخ ملا طنز هم کړے دے لکه " ټیټ په کاسه" نظم کښې وائي:

چې د مشـــرابـه رابـهـر شـــولـو پـه مـنـډه مـنـډه
تېـتې پـه کـاســـه او پـه خنـدا شـــولـو امـام پـه مئيو[19]

لنډه دا چې د همېش خليل صـــېب په نظمونو کښـــې مونږ ته هر رنګه موضـــوعات په نظر راځي چې د هغۀ وخت د سيا سي، سماجي او معا شي حالاتو پوره پوره ترجماني کوي ـــ همېش خليل صېب د نظم د هيئت سره سره د شعر په فکري اړخ هم ښۀ توجو کړې ده او د هغۀ دې خاصيت هغۀ د نور نه ممتازه کړے دے. په دې حقله ډاکټر حنيف خليل ليکي:

" عموماً دا سې کېږي چې شاعري په شروع کښې محض د رديف، قافئې، بحر او وزن خيال ســاتي او معنوي لحاظ ســره د شــعر کمزورۍ يې په نظر کښې نۀ وي. اکثر زاړۀ خيالونه او زاړۀ مضامين بيا بيا الفاظو کښـــې رانغاړي ولې همېش صـــېب د خپل هر دور په شاعرۍ کښې نۀ يوا ځې د شعر هيئتي اړخ ته توجو کړې ده بلکې په معنويت او موضـــوع يې هم فکر کړے دے او د تخيل نه يې هم کار اخستے دے." [20]

د پورته ورکړے شـوو حوالو په حقله مونږ وئيلے شـو چې همېش خليل نۀ صـرف خپل قام سره مينه کوي بلکې هغۀ د تمام انسانيت سره مينه کوي ـ د نړۍ د ټولو انسانانو درد په زړۀ کښې لري او په ټوله نړۍ کښې د امن په ارمان دے.

## اسلوب:

همېش خليل په خپله هم ژوره مشاهده او فراخه علم لري. او د ادبي ذوق هغۀ ته الله تعالیٰ د وخت نه بخښلے ؤ، په دې وجه هغوي چې په کومه موضوع هم قلم پورته کړے دے ــ ډېر په زړۀ پورې ليک يې کړے دے ولې د هغوي په شاعرۍ د کلا سيک اثر ډېر دے يا مونږ وئيلے شو چې شاعري يې کلاسيک ته ډېره نيزدې ده ـ د هغې وجه شايد دا وي چې هغوي د کلاسيک شاعرانو ديوانونه مرتب کړي دي او د کلاســيک شــاعرانو مطالعه يې ډېره ده ـــ په دې وجه د هغوي په

شاعرۍ کښې ډېر نادر او رنګين تشبيهات مونده شي، لکه د خيال اټکي، د اسوېلو ورشې، غلجي فکرونه، د سپينو ډکې شمعې، د غمونو کنډ، د معنو خوشبوئي، د فانوس کفن، د فکرونو هوسۍ او زهريزه شان فضاء. د هغوي شاعرۍ ته چې بنده ځير شي نو د پښتو ژبې د غني توب ګواه شي. چې د هغوي په نظمونو کښې نۀ صرف محاورې او متلې استعمال شوي دي بلکې د ژبې ډېر سوچه او زاړۀ لغتونه يې هم راوړي دي لکه سلاره، سپوږمې او داسې نور ډېر ـــ ښاغلے حنيف خليل صېب هم د هغوي د دې اسلوب په حقله ليکي چې:

"دوي د زړو شاعرانو خيال او مضمون دومره نۀ دے تکرار کړے څومره يې چې د هغوي علمي ژبه، علمي خوي، مشکل لفظونه او هغسې ترکيبونه او تشبيهات استعمال کړي دي." 21

د هغوي په شاعرۍ کښې معياري لهجه استعمال شوې ده ـــ فارسي لفظونه او ترکيبونه هم پکښې مونده شي ـــ د دې نه علاوه د هغوي په شاعرۍ کښې يو مخصوص آهنګ او موسيقيت دے. د دې آهنګ او اسلوب په حقله ډاکټر جاوېد اقبال وائي:

"د فني معيار له مخه يې په شاعرۍ کښې يو فطري آهنګ، ترنم او موسيقيت، د ژبې وقار او معنوي ابلاغ په نظر راځي چې د يوې معياري او سوچه شاعرۍ نخښې دي ـــ او دغۀ نخښو د دۀ شعري اسلوب ته انفراديت بخښلے دے." 22

د دوي ژبه اسانه او روانه ده ـــ او په اسانو لفظونو کښې يې ژورې او باريکې معنې رانغاړلي دي چې د دۀ شاعرۍ کښې يې لکه د کاظم خان شېدا غوندې نازک خيالي او خواږۀ پېدا کړي دي ـــ لنډه دا چې د همېش صېب نظمونه روماني هم دي او مقصدي هم او د فن تکنيک او ښکلا په تول هم ښۀ پوره دي.

# حوالې:

[1] حنیف خلیل، همېش خلیل ژوند او فن، دوېم ایډیشن، پښتو ادبي ټولنه ریګي سیمه پېښور، باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، 2022، مخ 27

[2] د همېش خلیل کلیات، سمونه او لټون، ایاز الله ترکزی، ادب محل ستي ټاور کابلي بازار پېښور، اپرېل 2021، مخ 166

[3] حنیف خلیل، همېش خلیل ژوند او فن، دوېم ایډیشن، پښتو ادبي ټولنه ریګي سیمه پېښور، باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، 2022، مخ 51

[4] د همېش خلیل کلیات، سمونه او لټون، ایاز الله ترکزی، ادب محل ستي ټاور کابلي بازار پېښور، اپرېل 2021، مخ 141

[5] حنیف خلیل، همېش خلیل ژوند او فن، دوېم ایډیشن، پښتو ادبي ټولنه ریګي سیمه پېښور، باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، 2022، مخ 51

[6] حنیف خلیل، آئینې، دانش خپرندویه ټولنه، 2001، مخ 295

[7] د همېش خلیل کلیات، سمونه او لټون، ایاز الله ترکزی، ادب محل ستي ټاور کابلي بازار پېښور، اپرېل 2021، مخ 81

[8] همدغه اثر، مخ 175

[9] همدغه اثر، مخ 177

[10] همدغه اثر، مخ 201

[11] همدغه اثر، مخ 186

[12] ډاکټر جاوېد اقبال، د همېش خلیل ژوند او خدمات، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 2018، مخ 401

[13] د همېش خلیل کلیات، سمونه او لټون، ایاز الله ترکزی، ادب محل ستي ټاور کابلي بازار پېښور، اپرېل 2021، مخ 97

[14] ډاکټر جاوېد اقبال، د همېش خلیل ژوند او خدمات، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 2018، مخ 411

[15] حنیف خلیل، همېش خلیل ژوند او فن، دوېم ایډیشن، پښتو ادبي ټولنه ریګي سیمه پېښور، باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، 2022، مخ 52

[16] د همېش خلیل کلیات، سمونه او لټون، ایاز الله ترکزی، ادب محل ستي ټاور کابلي بازار پېښور، اپرېل 2021، مخ 139-138

[17] ډاکټر سلمیٰ شاهین، جدید نظم په پښتو کښې، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، 2003، مخ 280

[18] د همېش خلیل کلیات، سمونه او لټون، ایاز الله ترکزی، ادب محل ستي ټاور کابلي بازار پېښور، اپرېل 2021، مخ 183

[19] همدغه اثر، مخ 318

[20] حنيف خليل، همېش خليل ژوند او فن، دوېم ايډيشن، پښتو ادبي ټولنه ريګې سيمه پېښور، باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، 2022، مخ 47

[21] همدغه اثر، مخ 57

[22] ډاکټر جاوېد اقبال، د همېش خليل ژوند او خدمات، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، 2018، مخ 406